# شمالي وزیرستان: د تي تي پي د ترهگرۍ لوی پلان ناکام کړی شوی

د شمالي وزیرستان په دته خیل سیمه کې نن سهار په لیاقت چیک پوسټ باندې ګمارل شوي سکیورټي اهلکارو د استخباراتي معلوماتو په اساس یو مشکوک ګاډی ودرولو چې د پلټنو په مهال په ګاډي کښې موجود ځانمرګي بریدګر په ګاډي کښې چاودنه کړې ده۔

**د لومړنیو معلوماتو له مخې ځانمرګي بریدګر پلان درلود چې په بنده پل کې د ملکي او دولتي ادارې لخوا جوړ شوي مراسم په نښه کړي چې د امنیتي منسوبینو لخوا شنډ کړای شو۔**

په موټر کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله دوه امنیتي سرتیري، یو پولیس کانسټبل او یو ځایي وګړی شهید شوي او سیمه له یوې لویې ترهګریزې پیښې څخه ژغورل شوې ده۔

**د راپورونو له مخې دغه برید د تحریک طالبان پاکستان د حافظ ګل بهادر ډلې ترهګرو کړی دی۔ په داسې حال کې چې د پیښې په اړه سمدستي پلټنې پیل شوي او تروریستان به په هیڅ صورت ونه سپموي. که په برید کې د کوم ځایي کس د لاس لرلو پخلی وشي، پر ضد به یې سخت اقدام وشي۔**